# يوازيني او ټولني ژوند

سړي پر نړۍ دوه ډوله ژوندون لري، لومړی يوازيني ژوندون "زندګاني انفرادی" او دوهم ټولني ژوند "حيات اجتماعی" چي هر سړی و دغه دوه ډوله ژوندون ته اړ دئ، د نړۍ لوړتيا او د سړو د چارو سمنو په دغه دئ چي دغه ډوله ژوندون د دوی سم سي.

هر اولس چي غواړي له سيالانو سره سم سي، يا د نورو اولسونو په ډله کښي په جګه غاړه ژوندون وکي، نو لمړی و دې ته اړ دئ، چي خپل د يوازيني او ټولني ژوندون دودونه سم کړي، او ځني وراني چي په منځ کښي ئې لري وباسي. او دا دواړه ډوله ژوندونه تر سمو دودونو لاندي راولي. په لومړی پلا خو د ټولو سړو د سمون او دګرده اولس د ښېګړو دپاره دا خبره تر هر څه دمخه ده چي د اولس د ټولو سړو يوازيني ژوندون به سميږي، چي د هر سړي ژوندون بېل بېل سم سو، وروسته به نو پخپله اولس ټولني ژوندون هم سم سي، او مخ پر لوړتيا به ولاړ سي.

لکه يوازي ژوندون چي د سمون دپاره ځيني دودونه او لاري لري دغسي ټولنی ژوندون هم ځانته د سموالي او لوړتوب بيلي لاري لري، چي هر اولس ښايي دغه لاري ومومي، او هر سړی بېل بې زيار وکاږي چي ژوندون پر هغه دود سم کړي چي د دغه يوازيني سمون څخه د ټولني سمون هم وزېږوي، سړي او اولس ټوله لوړتيا او درناوی ومومي. په نړۍ کښي چي نن ورځ هر اولس لوړ سوی او پر مخ تللی دئ، د لوړتيا او هسکتوب سمه لار هم دغه ده، چي لمړی پلا هر سړی ځان سموي چي ټوله سړي سم سوه، نو پخپله ټولنه او اولس هم سم سي. پښتانه که غواړي چي د ژونديو اولسونو په دود لوړتيا ومومي، يا پر نړۍ بيرته لکه خپل پخواني مېړونه د نوم او بري خاوندان سي ښايي چي هر څوك لمړی د ځان و سمون او د خپل ژوندون وښېګړو ته مخ کړي، او هر سړی ډېر زيار وکاږي، چي د يوه سم او روغ ژوندون څښتن سي، د يوازيني ژوندون د سموالي دودونه او لاري خو دغه دي، چي هر سړی پخپله روغتيا (صحت) کښي زيار وکاږي د روغتيا په لار ځان و پوهوي، خپل بشر کي او خپل ماغزه او پلې او هډونه غښتلي او ښه وساتي، د پوهني او زده کړي (علم و تعلم) په لار کښي هر راز زيار او مښود ومني چي له يوې خوا د سړي بشر روغ وي او له بلي خوا د پوهني لرونکی وي نو ښکاره ده چي داسي سړي د خپل ژوندون ټوله چاري د روغتيا او پوهني په سيوري کښي په ښه ډول کولای سي او هيڅکله د خپل ژوندون د سموالي په لارکښي له پښو څخه نه لويږي.

نو داسي سړی چي دی د پوهني په رڼا کښي په روغ بشر د ژوندون په سمون بُخت وي ښکاره ده چي ژر او په ښه ډول بری ومومي، او هيڅکله تر شا نه پاتيږي، داسي سړی چي لمړی د ځان د ژوندون په سموالي او لوړتوب کښي بری ميندونکی سي نو زيارکاږي په ټولني او اولسي ژوندون کښي هم په ښه ډول پل ږدي، په ټولني ژوندون کښي خو لمړی پلا سړی د خپل کورکهول سره مخامخ کيږي، وروسته نو بيا د يوه چم او د يوه ښار او د يوه هيواد سړي سره پېژني او د خپلوۍ او ملګرۍ دودونه يو د بله سره کوي.

هغه سړی چي خپل يوازيني ژوندون ئې سم کړي وي لمړی د خپل کور چاري هم سموي وروسته نو د مېړه په څېر راوزي د خپلوانو او چموالو او ښاروالو او په پاې کښي د خپلو مېنه والو (هموطنانو) سره هم په سمه ژوندون کوي خپلي ښېګړي په دوی پوريويني او د دوی ګټي په ځان پوري. نو داسي ژوندون کوي چي هم دی ګټه واخلي او هم نورو ته ګټه ورکړي.

کله کله د ټولني او اولس د ګټو دپاره خپلي ګټي لا هم پرېږدي او زيارکاږي چي خپل اولس ته يو ګټندوی

سړی سي، او هر کله د اولس ښېګړه د ځان تر ښېګړي دمخه کړي.

نو له لوړو ویناوو څخه دا ښکاره سوه چي د ټولني سمون پر یوازیني سمون ولاړ دئ، څو هر سړی بېل بېل سم او پوه نه سي تر هغو پوري د اولس سموالی هم نه کیږي.

نو پښتنو ! راسئ چي هر سړی ځان سم کړو، او ځانونه وپېژنو، چي دواړي مو سمي سي.

یادونه :

دا لیك سوچه پښتو دئ که څوك پردی ویی (لفظ) پکښي ومومي، راودې ښيي، پښتو سوی (مفغن) ویی خو موږ پښتو ګڼو[1].

---

[1]) طلوع افغان ، ۱۳۱۷ لمریز کال، ۱۳ گڼه، لومړی مخ.